جمهورية مصر العربية | ٥ رمضان ١٤٤٠هـ
وزارة الأوقاف | لغة البشتو | ١٠ مايو ٢٠١٩م

(١)

## د روژې مبارکه میاشت د اور څخه د خلاصون میاشت ده

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چي د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمايلي: « يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ»، ژباړه: « اې مؤمنانو! پر تاسي روژې فرض کړای شوې، لکه چي ستاسي څخه د مخکني پېغمبرانو پر پیروانو فرض کړای شوي وې، ددې لپاره چي په تاسي کي د پرهېزګارۍ صفت پیدا شي»، او زه ګواهي ورکوم چي نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چي هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلى الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی په حديث کي فرمايي: «څوک چي د روژې په مبارکه مياشت کې په بشپړ ايمان او يقين سره روژه ونيسي نو د هغه به پخواني ګناهونه وبخښلی شي»، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځي پوري په نيکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

و بعد:

الله جل جلاله دروژې مبارکي مياشت کې بيلابيلی خوبيانی او ځانګړتياوي ايښي دي چې په نورو مياشتو کې نشته، لدي جملي څخه دا دی چې دا د هدايت مياشت ده او پدې کې اسماني کتابونه نازل شوی دي لکه چې الله جل جلاله فرمايي:« شَهۡرُ رَمَضَانَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ فِيهِ ٱلۡقُرۡءَانُ هُدٗى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَٰتٖ مِّنَ ٱلۡهُدَىٰ وَٱلۡفُرۡقَانِ» ژباړه: « رمضان هغه مياشت ده چي په هغې کي قرآن نازل کړای شو، چي د انسانانو لپاره له سره تر پايه هدايت دی؛ او داسي څرګندي لارښووني په کښي دي چې د سمي لاري ښوونکي او د حق او باطل يو له بله په ډاګه بېلوونکي دي» همدارنګه نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: د ابراهيم عليه السلام صحيفي د روژې په اوله شپه باندي رانازل شوي دي شپږ روژې تيري شوي وي چې تورات نازل

شو او دیارلس روژي تیري شوي وي چې انجیل نازل شو او زبور د روژي په اتلسمه او قرآن پداسي وخت کي نازل شو چې حلیرویشت روژي تیري شوي وي.
همدارنګه د روژي د ښګینو او خوبیانو څخه بل هم دا دی چې دا د دعاء میاشت ده دعاء د طاعتونو او د لویو عبادتونو د جملي څخه ګڼل کیږي او هغه نیکیو څخه شمیرل کیږي چې بنده پري الله جل جلاله ته نږدی کیږي که یو څوک د الله جل جلاله په کتاب کې فکر وکړي نو وبه ګوري چې د دعاء ایات د روژي د مبارکی میاشتی د ایاتونو په منځ کې راغلی لکه چې الله جل جلاله فرمايي:« وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ ۖ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ ۖ فَلْيَسْتَجِيبُوا لِي وَلْيُؤْمِنُوا بِي لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ» ژباړه: «او [ای پیغمبره (ص)!] زما بندګان که ستا څخه زما (د لیری والي یا نږدې والي) په اړه پوښتنه وکړي؛ نو هغوی ته ووایه چې زه ورته ډېر نږدې یم: بلونکی چي کله ما وبلي، زه د هغه بلنه اورم او ځواب ورکوم، نو هغوی ته ښايي چي زما بلنې ته لبیك ووایي او پر ما ایمان راوړي (ته دا خبره هغوی ته واوروه)، کېدای شي چې سمه لاره ومومي»، او پدي کې دیته اشاره ده چې د روژه نیونکي دعاء قبلیږي نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: د روژه نیونکي دعاء نه ردیږي همدارنګه نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: دری داسي کسان دي چې د هغوی دعاء نه ردیږي یو عادل پاچا او بل روژه دار چې کله روژه ماتوي او بل هم د مظلوم دعاء ده چي د وریځو څخه به پورته وي او ددی دعاء لپاره د اسمان دروازي پرانستل کیږي او الله جل جلاله فرمایي: زما د پخپل شان قسم وي هرومرو به تاته بریٰ درکوم اګر که څه موده بعد هم وي.
ددغه میاشتی د خوبیانو او ځانګړتیاوو څخه بل هم دا دی چې الله جل جلاله د روژي مبارکه میاشت د اور څخه د خلاصی میاشت ګرځولي ده نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: کله چې د روژی د مبارکی میاشت لومړنی شپه داخله شي نو شیطانان تړل کیږي جنات شړل کیږي د اور

دروازي بنديږي چې هيڅ دروازه به نه پرانستل کيږي د جنتونو دروازي پرانستل کيږي او ددی څخه به هيڅ يو دروازه نه تړل کيږي او يو آواز کوونکي غږ کوي چې اي د ښيګڼي تلاش کوونکيه د روژی هرکلی وکړه او اي د شر غوښتونکيه د شر څخه لاس واخله، په بل حديث کې راغلي الله تعالی د هر روژماتي په وخت او د روژي په شپو کې په يو شمير کې انسانان د دوزخ د اور څخه آزادوي، د اور څخه د خلاصي مقصد دلته دا دی په هر هغه چا باندی چې الله جل جلاله احسان وکړی نو دغه ښيګڼي او خوبياني ورته رسوي او لوی نعمت ددي جملي څخه دا دی چې هيڅکله به اورته نه داخليږي.
نو روژه د ښيګڼي د دروازو څخه يوه دروازه ګڼل کيږي او هغه خصلت دی چې بنده پري د جهنم د اور څخه خلاصون مومي نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: چې روژه وقايه ده چې بنده پری د اور څخه ساتل کيږي همدارنګه نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: که يو بنده د الله په لاره کې يوه ورځ روژه ونيسي نو الله جل جلاله به ددغي ورځي په بدله کې د هغه د مخي څخه به اويا خريفه د دوزخ اور ليری کړي.
د معاذ بن جبل څخه روايت دي دی وايي زه د نبي کريم صلی الله عليه سره په يو سفر کې وم نو يو ورځ نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته نژدی شوم پداسی حال کې چې مونږ په لاره روان وو کله چې مي هغه ځانته وليدو نو ورته مي وويل اي د الله رسوله ماته داسی يو کار وښايه چې جنت ته پری داخل شم او د اور څخه لری شم هغه ورته وفرمايل: ډيره لويه پوښتنه دی وکړه خو دا په هغه چا باندي اسانه ده چې الله جل جلاله ورته اسانه کړی وي د الله جل جلاله عبادت کوه او شريک ورسره مه راوړه لمونځ کوه زکات ورکوه د روژي مبارکي مياشتی روژه نيسه د بيت الله شريف حج کوه بيايي وفرمايل:ايا زه تاته د ښيګڼي دروازي ونه ښايم؟ روژه د ډال حيثيت لري او صدقه ګناهونه داسی ختموي لکه اوبه چې اور خاموشوي همدارنګه روژه يو د هغو شفاعتګرانو د جملي څخه

دی چې د قیامت په ورځ به الله جل جلاله ددي شفاعت قبلوي نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي: روژه او قرانکريم د بنده لپاره د قيامت په ورځ شفاعت کوونکي دي روژه به وايي چې اي ربه ما هغه د خوراک او څښاک څخه د ورځي منع کړی وو نو د هغه لپاره زما شفاعت ومنه نو قرانکريم به ورته وايي: چې ما هغه د شپي د خوب څخه منع کړی وو نو زما شفاعت د هغه په باره قبول کړه نو بيايي وفرمايل د دواړو شفاعت قبليږي.

روژه همدارنګه د بخښني د لاملونو څخه يو لامل ګڼل کيږي او همدارنګه د جنت د لارو څخه يوه لاره ده الله جل جلاله د خپلو روژه نيونکو بندګانو سره وعده کړی ده چې بخښنه به ورته کوي لوی اجر به ورکوي الله جل جلاله فرمايي:« نَّ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُسْلِمٰتِ وَالْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنٰتِ وَالْقٰنِتِينَ وَالْقٰنِتٰتِ وَالصّٰدِقِينَ وَالصّٰدِقٰتِ وَالصّٰبِرِينَ وَالصّٰبِرٰتِ وَالْخٰشِعِينَ وَالْخٰشِعٰتِ وَالْمُتَصَدِّقِينَ وَالْمُتَصَدِّقٰتِ وَالصّٰٓئِمِينَ وَالصّٰٓئِمٰتِ وَالْحٰفِظِينَ فُرُوجَهُمْ وَالْحٰفِظٰتِ وَالذّٰكِرِينَ اللَّهَ كَثِيرًا وَالذّٰكِرٰتِ أَعَدَّ اللَّهُ لَهُم مَّغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا» ژباړه: «بېشکه مسلمان نارينه او مسلماني ښځي، مؤمنان نارينه او مؤمني ښځي، امر منونکي نارينه او امر منونکي ښځي، رښتيني نارينه او رښتيني ښځي، صبر کوونکي نارينه او صبر کوونکي ښځي، د الله په وړاندي سر ټيټوونکي نارينه او سرټيټوونکي ښځي، خيرات ورکوونکي نارينه او خيرات ورکوونکي ښځي، روژتيان نارينه او روژ تياني ښځي، پاک لمني نارينه او پاک لمني ښځي او د الله ډېر ډېر يادوونکي نارينه او د الله يادوونکي ښځي، دا (لس واړه ډوله) خلك هغه کسان دي چې الله د هغو لپاره ښنه او لوی اجر تهيه کړی دی»، همدارنګه نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: څوک چې د روژي مبارکي مياشتي روزي په بشپړ ايمان او يقين سره ونيسي نو الله جل جلاله به د هغه ګناهونه معاف کړي همدارنګه پدي کې داسي يوه شپه ده چې که يو چاته الله جل جلاله دغه شپه نصيب کړي چې د شپي ودريږي لمونځ وکړي قرآن کريم ولولي

او دعا وکړي او د الله جل جلاله طاعت ترسره کړي نو الله جل جلاله د هغه گناهونه به معاف کړي چې هغه د قدر شپه ده نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي څوک چې د قدر په شپه باندی په بشپړ ایمان او یقین سره الله ته ودریږی نو د هغه مخکیني گناهونه به معاف کیږي.
دا چې د ورژي مبارکه میاشت او روژه د جنت د لارو څخه یوه لاره ده پدي هکله نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: چې په جنت کې داسی یوه کوټه ده چې ظاهر یي د باطن څخه ښکاري او باطن یي د ظاهر څخه الله جل جلاله د هغه چا لپاره چمتو کړی ده چې بي وزلو سره مرستي کوي نرمي خبري کوي سر په سر روژه نیسي او په داسي حال کې چې خلک ویده وي هغه لمونځ کوي، د ابي هریره رضی الله عنه څخه روایت دی دی وایي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم یوه ورځ د صحابه ؤ څخه پوښتنه وکړه په تاسو کښې چا نن روژه نیولی وه؟ ابوبکر رضی الله عنه وویل ما، نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل په تاسو کې چا نن په جنازه کې گډون کړی وو ابوبکر رضی الله تعالی عنه ورته وفرمایل چې ما، بیا نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: نن په تاسو کې چا یو مسکین ته خواړه ورکړي دي ابوبکر رضی الله عنه وفرمایل چې ما، بیا یی وفرمایل په تاسو کې چا نن د ناروغ پوښتنه کړی ده ابوبکر رضی الله عنه ورته وویل چې ما، نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: هر چا چې دغه کارونه سرته ورسول هغه به جنت ته داخلیږي. کله چې ابو امامه الباهلی نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته راغی او پوښتنه یي تری وکړه چې اي د الله رسوله ماته داسي یو کار را وښایه چې جنت ته پري داخل شم نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: ته روژه ونیسه ځکه چې روژه هیڅ مثل نلري.
بل دا چې روژه د بنده او د هغه د رب ترمنځ یو راز دی چې پدي حقیقت باندی هیڅوک نه پوهیږي روژه کونکي کولی شي چې په یو داسي ځاي کې چې څوک یي ونه ویني ماسوا د الله جل جلاله څخه هغه څه وخوري

چې الله جل جلاله په روژه کې ورباندی حرام کړي دي خو دا کار نه کوي ځکه چې هغه په یقیني ډول پوهیږي چې الله جل جلاله د هغه ټول کارونه ګوري او څاري نو هغه د الله د ویرې او د هغه د عذاب د ویرې څخه دا پریږدي ترڅو ثواب او ښیګڼه لاسته راوړي او پدې باندی باور لري چې الله جل جلاله د هغه سره دی الله جل جلاله پدې هکله فرمایلي دي:« أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۖ مَا يَكُونُ مِن نَّجْوَىٰ ثَلَٰثَةٍ إِلَّا هُوَ رَابِعُهُمْ وَلَا خَمْسَةٍ إِلَّا هُوَ سَادِسُهُمْ وَلَآ أَدْنَىٰ مِن ذَٰلِكَ وَلَآ أَكْثَرَ إِلَّا هُوَ مَعَهُمْ أَيْنَ مَا كَانُوا ۖ ثُمَّ يُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوا يَوْمَ الْقِيَٰمَةِ ۚ إِنَّ اللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ» ژباړه: « ایا ته نه یې خبر چې الله د اسمانونو او ځمکي پرهر شي باندي عالم دی؟ - هیڅکله داسي نه کیږي چې د دريو تنو کوم پټ مجلس وي او د هغو په منځ کښي څلورم الله نه وي، یا د پنځو تنو پټ مجلس وي او په هغو کښي شپږم الله نه وي. د پټو خبرو کوونکي که له دې څخه کم وي یا زیات، هغوی چې هر چیري وي، الله ورسره دی. بیا به د قیامت په ورځ هغو ته دا وښیي چې څه یې کړيدي الله په هر شي باندي عالم دی».
روژه د هغه عبادتونو د جملي څخه ګڼل کیږي چې الله جل جلاله ددي نسبت خپل ځان ته کړی دی او ددي بدله ورکول یي هم خپل ځان ته خاص کړي دي نبي کریم صلی الله علیه وسلم پدي هکله فرمایلي دي چې الله جل جلاله حدیث قدسي کې ویلي دي د بني آدم هر کار هغه لپاره دی مګر روژه ځکه چې دا زما لپاره دی او زه به یي بدله ورکوم په بل روایت کې راځي چې د انسان هر عمل چې نیک کار کوي د لس چندو تر اووه سوه چندو پوری بدله ورکول کیږي الله جل جلاله فرمایي مګر روژه ځکه چې دا زما لپاره دی او زه به ددي بدله ورکوم نو د همدي لپآره د علم خاوندانو ویلي دي چې د الله جل جلاله یواځې دغه وینا د روژي د فضیلت په برخه کې بسنه کوي چې ویلي دي چې روژه زما لپاره ده ماسوا ددی نه چې د نورو عباداتو لپاره یي دا ندي ویلي ځینو ویلي دي

چې د الله جل جلاله له لوري د روژې ځانګړی کول چې خپل ځانته يي خاص کړی دی لامل دا دی چې روژه د الله جل جلاله ماسوا د بل چا عبادت پری نکيږی ځکه چې روژه يواځې ځانګړی د الله جل جلاله لپاره يو عبادت دی چې هيڅ ډول تکبر پکې نشته او ځينو بيا ويلی دي چې روژه الله جل جلاله ته په عبادتونو کې ډيره خوښه ده.
نو روژه نيونکی تل ددي احساس لري چې الله جل جلاله د هغه څارنه کوي او ددي حرص لري چې پدغه مبارکه مياشت کې ګټه پورته کړی او د الله جل جلاله برکات لاسته رواړي پدي هيله چې الله هغه د اور څخه وژغوري.

اقول قولی هذا و استغفرالله لی ولکم
*********

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځې پوري په نيکۍ سره د هغه تابعداري کوي.
ډيرو درنو مسلمانانو ورونو:
هغه روژه چې د اور څخه د خلاصون لامل کيږي هغه ده چې نيونکې يي د هر ډول بد سلوک څخه ځان وساتي چې د هغه او د ګناهونو ترمنځ رامنځته کيږي او همدارنګه پداسی ډول سره پرهيزګاري وکړي چې د روژي مبارکي مياشت هدف او ګټه لاسته راوړي حرام ونخوري او همدارنګه د چا ابرو ته لاس وانچوي او غيبت ونکړي د خلکو ترمنځ شيطاني ونکړی په درواغو ګواهي ورنکړي او د الله جل جلاله د رضا ماسوا بل څه ونه وايی او همدارنګه بدي ته په بدۍ باندي ځواب ورنکړي بلکي بديو ته په نيکۍ ځواب ورکړي ترڅو د روژه نيونکو اخلاق په ځان کې راولي لکه چې الله جل جلاله فرمايي:« وَإِذَا سَمِعُوا اللَّغْوَ أَعْرَضُوا

عَنْهُ، وَالَّذِينَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُونَ، ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ السَّيِّئَةَ ۚ»
ژباړه: « او کله چې یې بابېزه خبره واورېدله، نو پدې وینا سره ورځخه په ډډه شول، او هغه (کسان) چې له عبثو او ناکاره کړنو ځخه مخ اړوونکي وي؛ [اې محمده (ص)!] د بدئ مخنیوی په هغه توګه وکړه چې ډېره ښه وي» همدارنګه نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلی: روژه د ډال حیثیت لري نو کله چې په تاسو کې چا روژه ونیوله نو جماع دي نکوي جنګ او جګړې به نکوي که څوک ورته کنځل او بدرد هم ووایي نو باید ورته ووایه چې ما روژه نیولی ده.
په حقه سره روژه دار هغه دی چې د روژې اجر او ثواب ورته ملاویږي او ګټه یې لاسته راوړي دا په هغه وخت کې چې د هغه د روژې اغیزې د هغه په سلوک او د خلکو سره په چال او چلند کې ښکاره شي پداسی ډول سره چې روژه ددي لامل شي چې نیونکي د خپل نفس چارې خپله سمبال کړي او په هغه باندي برلاسی وي او هغه پداسی ډول سره تینګ کړي چې خیر او ښیګڼي او په دنیا او آخرت کې خوښوېو ته ځان ورسوي ځکه چې نفس خپله په بدیو باندي امر کوونکي دي مګر د هغه چا لپاره چې په هغه باندي الله رحم کړی وي که یو څوک خپل نفس آزاد پریږدي نو هغه به هلاکت کې ځان اچوي او که چیرته یو څوک د نفس ساتنه وکړي او په هغه برلاسی وي نو کولاي شي لوړو مرتبو ته ځان ورسوي او خپلو موخوته ورسیږي او دا تر هغه پورې نشي ثابته کیدلاي مګر تر هغه چې په حقیقي ډول سره روژه ونیسي او د الله جل جلاله د عظمت احساس وکړی او همدارنګه خپله خیټه شرمګاه ژبه او دبدن ټول غړي د هر هغه څه ځخه وساتي چې الله جل جلاله هغه حرام ګرځولي وي.
همدارنګه ریښتیني روژه دار هغه دی چې د هغه عمل ښه شي او د الله جل جلاله لپاره مخلص ووسي او د خپلي روژې د قبلیدو لپاره کار وکړي لکه چې ابراهیم علیه السلام د خپل رب ځخه د خپلو اعمالو د قبلیدو دعاء وکړه سره لدي چې هغه یو لوي کار سرته رسولو چې الله جل جلاله هغه

ته امر کړي ووچې هغه د کعبي شريفی جوړول وو پدی هکله الله جل جلاله فرمايلي دي: « وَإِذْ يَرْفَعُ إِبْرَٰهِـۧمُ الْقَوَاعِدَ مِنَ الْبَيْتِ وَإِسْمَٰعِيلُ رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّآ ۖ إِنَّكَ أَنتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ» ژباړه: « او هغه وخت (ياد کړه) چي کله ابراهيم (ع) او اسمعيل (ع) ددې کور دېوالونه پورته کول، نو دُعا يې کوله: "اې زموږ ربه! زموږ څخه دا خدمت قبول کړه. ته د هر څه اورېدونکی او په ټولو شيانو پوهېدونکی يې؛».

همدارنګه علي رضي الله عنه فرمايلي دي تاسو د يو کار د کولو څخه د هغه د قبليدو لپاره ډيره پاملرنه وکړئ ځکه چې تاسو د الله جل جلاله دغه وينا نده اوريدلی چې فرمايی:« إِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللَّهُ مِنَ الْمُتَّقِينَ» ژباړه: « الله خو يوازي د پرهېزګارانو نذرونه قبلوي».

ای الله مونږ د هغه کسانو د جملی څخه وګرځوي چې د اور څخه خلاصون مومي او د هغه کسانو د جملي څخه مو وګرځوي چې روژي يي قبليږي.